به نام خدای بخشاینده مهربان

چهار صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبر مسلسل (۱۱۸۸) سال نزدهم ،شماره (۹۴) دوشنبه (۸) اسد ۱۳۷۵ هـ.ش (۱۳) ربیع الاول ۱٤۱۷هـ ق - (۲۹) جولای ۱۹۹۶م

به تعقیب خبرورود هیئت کابل به اسلام آباد، راه سرحدی تورخم بسته شد

دولت فدرال اجازه نامه های ای ، اس ،ای را بی اعتبارساخت

پشاور :

به تعقیب تصمیم دولت پاکستان مبني برمنسوخ نمودن اجازه نامه هاي «آي اس آي» براي انتقال موادغذايي و محروقاتي به افغانستان مشکلات افغانها ازناحیه قلت مواد یادشده افزایش خواهد یافت.

روزنامه نیوز مینگارد حکومت فدرال پاکستان راه مرزي تورخم را برروي کاروان هاي حامل هرگونه موادي که قبلاً بااجازه نامه سازمان استخبارات نظامي پاکستان (آي اس آي) صورت مي گرفت، مسدود کرد. این اقدام دولت

پاکستان دقیقاً یك هفته قبل ازسفرهیئت عالیرتبه افغان به اسلام آباد صورت گرفته است . قرار است این هیئت تحت ریاست محمدیونس قانوني وزیر داخله دولت اسلامي وارد پاکستان گردد .

کابل بارها اسلام آباد بخصوص آي اس آي را به حمایت وپشتیباني نیروهاي ضددولتي متهم نموده است .

مقامات رسمي «پولتیکل خیبرایجنسي »

بقیه درستون «۱» صفحه «٤»

باید دماهیبر تړون ټکی په ټکی تطبیق شي

په تړون کی د دولت درئیس ، صدراعظم اونورو ادارو صلاحیتونه اودکارساحي پوره توضیح شوی دي

پکارده چي دتړون متن ددولت اوحکومت درسمي اوبااعتباره سند په توګه خپور شي

باید په ټول قوت هڅه وشي چي دحزب اوجمعیت داتحاد تجربه بریالی شي

حزب داقتدارلپاره نه ، دیوه مثبت بدلون اوبحران دحل لپاره کابل ته ننوتی دي

یواځي په هغه صورت کی دهم آهنګی شوری نورغري تنظیمونه دسولی له محور سره په واده زړه یوځای کیدای شي ، چي «محور» جوړ اومضبوط پاتي شي

پېښور - دزمري ۷ مه :

پرون دحزب اسلامي افغانستان پومسئول مقام دشهادت خانګړي استاځي ته وویل چي « باید په ماهیپرکي « ورور «حکمتیار» او استاد « رباني » ترمنځ لاسلیك شوي تړون ټکي په ټکي تطبیق شي، ځکه ددي تړون محتوي په هیواد کي دسولي دراوستو اویوه مثبت بدلون په خوا داوضاع دلیږدولو داقتضاتوپه پام کي نیولو سره ترتیب شوي ده . په تومورې تړون کښي ددولت درئیس، صدراعظم اونورو اداروصلاحیتونه اودکارساحي په پوره اومشخصه توګه توضیح شوي دي . اوپه دي باره کي ئي هیڅ راز ابهام اوپیچلتیانه ده پرېښي .

پکارده چي دتړون متن ددولت او حکومت درسمي اوبااعتباره سندپه توګه خپورشي.»

دحزب پادشوي مقام زیاته کړه چي « باید په ټول قوت هڅه وشي چي دحزب او جمعیت د اتحاد تجربه بریالي شي . یواځي په هغه صورت کي دهم آهنګي شوري نورغري تنظیمونه دسولي له رامنځ ته شوي محورسره په واده زړه یوځاي کېداي شي، چي «محور» جوړاومضبوط پاتي شي».

ده زیاته کړه چي « د حزب اسلامي

پاتي «٤» مخ «۲» ستون

به گزارش مطبوعات ایران :

طالبان بخاطر جلوگیری از حمله دولت ، مردم بیدفاع هرات راگروگان گرفته اند

شواهد ومدارکی موجود است که موارد نقض حقوق بشر درمناطق تحت کنترول طالبان رابرملا می سازد

هرات - ۷ اسد :

همزمان باتشنج شدن اوضاع درساحات تحت کنترول گروه طالبان"نارضایتي مردم درولایت هرات به اوج خود رسیده است .

روزنامه قدس چاپ مشهد درتازه ترین شماره اش طي گزارش نارضایتي وعکس العمل روز افزون مردم درمناطق زیرتسلط گروه طالبان رامنعکس ساخته است .

این روزنامه نگاشته که گروه طالبان براي جلوگیري ازتهاجم احتمالي نیروهاي دولت اسلامي افغانستان برشهرهرات، بیش از یکهزارتن ازاهالي بیدفاع شهررا به اتهام دست داشتن بادولت به گروگان گرفته است .

روزنامه مذکور بــه نقــل از

بقیه درستون «٥» صفحه «٤»

هلیکوپتر حامل یاسرعرفات ازخطر حتمی نجات یافت

بیت المقدس - ۱۷ اسد :

هلکوپتر حامل یاسرعرفات رئیس اداره خودمختار فلسطیني دراثر اشتباه پیلوت درمعرض نابودي کامل قرارگرفته بودکه بطور معجزه آسا نجات یافت .

طبق گزارش منابع خبري بین الملل هلیکوپتر حامل یاسرعرفات که از نوع (ایم ون ۸) میباشد و ازطرف حکومت مصر به وي طورتحفه داده شده است در دوران پرواز برمنطقه نوارغزه دراثراشتباه پیلوت بــه مناطق تحت تسلط اسرائیل داخل شد کــه دراین اثنا پیلوت فوراً به اشتباه اش پي برده وباوزارت دفاع اسرائیل تماس گرفت .

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

رابن رافل معین وزارت خارجه امریکا:

امریکا و سازمان ملل ثابت سازند که جامعه بین المللی افغانستان را فراموش نکرده اند

ایالات متحده افغانها را فراموش نکرده است

واشنگتن :

یك مقام رسمي دولت امریکا روز شنبه درواشنگتن گفت که ایالات متحده وسازمان ملل متحد منافع زیاد درآینده افغانستان دارند .

براساس گزارش خبرگزاري رسمي پاکستان رابن رافل معاون وزارت امورخارجه امریکا درامور جنوب آسیا خبرداده که اخیراً نمایندگان گروه هاي متعدد افغان به واشنگتن دعوت شده بودند تاراه هاي پایان یافتن درگیري وتاسیس حکومت مرکزي درافغانستان را تشانذهي کنند ،وي اظهارداشت بکه ایالات متحده وسازمان ملل متحد براي تأمین ثبات آینده این کشور تلاش دارند . رافل علاوه کرد ایالات متحده دراین روزها بیشتر متوجه مسایل منطقه است . رافل که ازطریق تلویزیون صحبت مي کرد این موضوع را که امریکا افغانستان را فراموش کرده است ردکرد . بنابر اظهارات رافل امریکا حکومت عبوري را که همه

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

جاکارتا : وارن کریستوفر سکرتروزارت خارجه امریکا (سمت چپ) حین صحبت با اندرگوجران وزیرخارجه هند در کنفرانس جاکارتا

به تعقیب بالاگرفتن خصومت میان دوقبیله :

بازگشت مهاجرین مقیم کمپ حصار شاهی به کابل افزایش یافته است

مقامات رسمي روزشنبه اظهارداشتند به تعقیب بروز اختلافات میان دوقبیله باهم رقیب درمنطقه ، هزاران مهاجر ازکمپ سازمان ملل در شرق کشور به کابل سرازیرشده اند .

به گزارش روزنامه «دي نیوز» ترینزز کارمند کمشنري عالي سازمان ملل متحد براي مهاجرین به آژانس خبري فرانسه گفت : حدود (۱۲۰۰) مهاجر قریب به چهاربرابرتعداد افرادیکه معمولاً روزانه واردکابل مي شوند» روزپنجشنبه ازکمپ مهاجرین سازمان ملل درحصارشاهي ننگرهار واردکابل شدند .

موج ورود عاجل وبیش ازحد مهاجرین به شهرمحاصره شده کابل بعدازآن

بقیه درستون «۳» صفحه «٤»

اعتصاب غذایی زندانیان ترکیه پایان یافت

انقره - ۷ اسد :

(۱۷) تن اززندانیان محابس ترکیه به اعتصاب غذایي که درنتیجه آن ۱۷ تن ازآنهاجان دادند پایان بخشیدند.

طبق گزارش منابع خبري این اعتصاب دیشب زماني پایان یافت که دولت شرایط آنهارا درجهت بهبودوضع زندان ها پذیرفت. این اعتصاب غذایي ازشدید ترین اعتصاب ها در ترکیه بشمار میرود، گرچه این اعتصاب درحال حاضر پایان یافته است اما مرگ ومیر ناشي ازآن تاکنون

بقیه درستون «۱» صفحه «٤»

دردیدار مسوول امورحفظ آثار کلتوری جنوب آسیا باوزیراطلاعات وفرهنگ :

برجمع آوری وحفظ آثار باستانی افغانستان تاکید شد

کابل -

بیش ازشش انجمن بین المللي براي جمع آوري وحفظ میراث کلتوري افغانستان همکاري خود را اعلان داشتند .

براساس گزارش رسیده ازکابل میرمن «دوپري» مسئول امورآثارکلتوري وتاریخي جنوب آسیا بامحترم قیام الدین «کشاف» وزیراطلاعات وفرهنگ دولت اسلامي افغانستان دیدارنمود.

طي این دیدارراجع به چگونگي جمع آوري وحفظ آثار تاریخي افغانستان صحبت تفصیلي به عمل آمده طرفین برجمع آوري ونگهداشت میراث فرهنگي وکلتوري افغانستان تاکید کردند.

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

الهی فرمان

دهغو پلارووېل :«زه په هیڅکله هغه له تاسی سره ونه لیږم تر څو پوری چی تاسی دالله په نوم له ماسره لوز ونکړی چی دی به هرومرو بیرته ماته راولی مګرداچی تاسی چیرته محاصره کړای شي .» کله چي هغو ورسره خپل خپل تعهد وکړ نوهغه وویل :«ګوری زموږ پردی وینا باندی الله ساتونکی دی.»

(یوسف-٦٦)

دنصرت مینی دعبدالرحمن بن عوف په جومات کی :

دحضرت محمد(ص) دنیکمرغه میلاد په مناسبت غونډه وشوه

نصرت مینه - دزمري ۷ مه :

پرون د زمري پــه ٦ مه نېټه چي دحضرت محمد(ص) د نېکمرغه میلادله مبارکي ورځي سره برابره وه دنصرت میني دعبدالله بن «عوف » په جامع جومات کي یوه درنده غونډه وشوه په غونډه کي چي دحضرت خالدبن ولید (رض) دحوزي پــه مسئولینو سربیره دحزب اسلامي د اجرائیه شورا غړو ، علماوو، جهادي قوماندانانو اومهاجرینو

پاتي «٤» مخ «٦» ستون

دتورکمپ دمهاجرینوغونډه:

دهیواد دنوی صدراعظم داعلان شویو اصلاحاتو ملاتړ نه کول جفاده

پېښور - دزمري ۷ مه :

دومه ورځ پېښورته څېرمه دتورکمپ علماوو،جهادي قوماندانانو ،قومي مشرانو اومهاجرینو دهیواد دروان کړکیچن حالت دسمون په اړه یوه درنده غونډه وکړه .

له تورکمپ څخه په رسیدلوړپوتوترکي ویل کېږي چي غونډه دقاري محمدنسیم لخوا د قرآن عظیم الشان دځومبارکو آیتونو پــه تلاوت پیل شوه وروسته دېرخوالو په نمایندګي مولوي علم جان ، حاجي ګل مرجان، ملك عبدالسلام

پاتي «٤» مخ «۲» ستون

دکابل راډیو درپوټ له مخې:

دطالبانو یوتن قوماندان باچا دمیدان ښار په مربوطاتوکی وژل شوی دی

میدان ښار - دزمري ۷ مه :

دطالبانو یوتن قوماندان دومه ورځ دمیدان ښار په مربوطاتو کي ووژل شو.

دکابل راډیو دتېري شپي دخبرله مخي وویل کېږي چي : قوماندان باچا پرون دمیدان ښار په مربوطاتو کي ووژل شوي دي .

دهیواد جمهور رئیس دسرورکائینات دنیکمرغه میلادد لمانځنی په غونډه کی ګډون وکړ

په غونډه کی دکابینی یوشمیرغړو ، دوسله وال پوځ جنرالانو، لوړرتبه دولتي کارکوونکو هم برخه اخستي وه

کابل - دزمري ۷ مه :

دافغانستان جمهوررئیس استاد رباني دکورنیو چارو دوزارت په تالارکي په هغه غونډه کښي برخه واخیسته چي دسرورکائینات دنیکمرغه میلاد لــه امله جوړشوي وه .

دغه غونډه چي پرون له غرمي مخکي جوړه شوه دهیواد جمهوررئیس دغونډي برخوالوته دحضرت محمد(ص) دنیکو فضایلو اونیکواخلاقو په اړه خبري وکړي وېي ویل : دحضرت رسول اکرم (ص) نیکمرغه میلاد، دنوراو د رحمت میلاد، دفیض اوبرکت میلاد، دکرامت اواسلامي هویت میلاد،دنظم اودقانون میلاد، دجابرانوددړیني اودمحکومینو دمحکومیت میلاد اودټولو موجوداتو

پاتي «٤» مخ «٢» ستون

دډګرجنرال جمعه خان «همدرد » په مشرۍ :

دحزب اسلامی دبلخ ولایتي شورا غونډه وکړه

مزارشریف -

دبلخ ولایت مربوط دحزب اسلامي افغانستان ولایتي شورا پرون دډګرجنرال جمعه خان همدرد په مشرۍ غونډه وکړه .

په مزارشریف کي دډګرجنرال همدرد دقرارګاه یوي مسئولي منبع شهادت ته وویل ، پدي غونډه کي چي د جمعي په

پاتي «٤» مخ «٢» ستون

داسلام دسترپیغمبر حضرت محمد (ص) نیکمرغه میلاد دغونډو په جوړولو سره ولمانځل شو

کابل -

دبشریت دژغورونکي حضرت محمد(ص) نیکمرغه میلاد دهیواد په ګوټ ګوټ «پرتمینو غونډو په ترڅ کي ولمانځل شو .

دکابل له ښارڅخه دشهادت خبریال خبراکوي چي پرون دغه نیکمرغه میلاد دلمانځني پــه وینار دهیواد په بیلابیلوسیمو، دکابل ښاریه څېنودولتي

پاتي «٤» مخ «٤» ستون

اتلانتا : درکتوران مصروف تداوي قربانیان انفجار بمب نیرومندي هستند که روز شنبه پارك مرکزي اتلانتا محل برگزاري بازي هاي اولمپیك سال ۱۹۹٦ راتکان داد، این پارك بخاطر تفریح تماشاچیان بازي هاي اولمپیك درسمت پائین شهر بناشده (جورجیا) بناشده است . این انفجار که نگراني امریکائیان رانسبت به بي امنیتي درامریکا افزایش داده (۲) کشته و (۱۱۰) مجروح برجاي گذاشت.

دافغانستان د مسلمان ملت د مقدس جهاد د ټولو شهيدانو په ياد
شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس: انجنیرحکمتیار
ناشر: ریاست ارشادوفرهنګ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون: ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

په طالبانو دورور «حکمتیار» غږ...!

تېره جمعه دپل خشتي پــه جــومــات کــي دحــزب امیر اودهیواد صدراعظم ورور « حکمتیار» دطالبانو دغورځنګ په مشرانو غږوکړ چې خبروته دې راوړاندې شي ، که هره غوښتنه لري هغه دې په مذاکراتوکي مطرح کړي، که صدارت غواړي زه ئې ورته پرېږدم ، که ریاست جمهوري غواړي په هغه دې هم په مذاکراتو کي وغږیږي .

طالبان باید په دې وپوهیږي چې دورور « حکمتیار» په دې ویناکي دتبلیغاتو اوتظاهر هیڅ رنګ نه ترسترګوکیږي ،بلکې خپله جدي موضع ئې په خورا صراحت اوجنابیت مطرح کړي ده .

ترکومه چې په « حکمتیار» پورې اړه لري ، نوپوښتنې خبره ئې نه نوې ده اونه حیرانوونکې . هغه په تیرو پنځوکلونوکې همیشه په خبرو اترو ټینګارکړي اودهیواد دقضایاوو دحل لپاره ئې دسیاسي لاروغوره کول غوښتي دي . دطالبانو دټولو هغو کارونو باوجودچې دحــزب په خلاف ئې وکړل، دحزب امیر تل هغوي تـــه دسولې او ورور ګلـوي لاس وراوږدکړي دي . مګرمتاسفانه چې طالبانو دسولې له پیغامونو سره په ډیره بې سنجشي برخوردکړي اونه ئې ده پرېښي چې دتفاهم تجربي خپله لاروموي .

په دې علاوه دحزب امــیر د کابل وروستي انکشــاف، ان له پیله دسولې «محور» ګڼلي دي. ددې مفهوم دادي چې باید داانکشاف زموږ جګړې سوځولي ملت تـه دسولې خبرراوړي ، نه دنورو جنګونو، نـه دنورو ورور وژنو، بربادیو اوفاجعو .

په همدې بنا بایدپه طبیعي توګــه د ورور « حکمتیار » پــه دریځونواووینااوکي دسولې مفهوم نغښتي وي، دجګړې دختمولو ارزوپکي پرته وي، اوپه دې نیت اوروحیه ولاړوي چې واقعاً غواړي دبحران لپاره یومعقول جامع اوعملي حل ترلاسه شي، ټول قانع شي ، یولوري اویوقوت داقتدار دانحصار هوس ونکړي، یوه حلقه اویوجهت ځان دافغانستان ټیکداروته بولي، افغانستان دټولو ګورښي، داسلام اوجهاد کلاشي، دټولو افغانانو عزت ، حقوق او ازادي پکــي خــونــدي شي، ټول تعصبونه اونفرتونه ترې وکوچیږي ، اسلام اودولس اراده پکې ټاکونکي اوپریکنده عامل شي، ټول سیاسي قوتونه خپل عزت دپردیو دمزدورۍ په ځاي، دخارجیانو دګټواواهدافو دپاللو لپاره دځان داستخدامولو پــه عــوض، دپردیو دپروژو دعملي کولو په لارکي دسبقت دترلاسه کولو په ځــاي ، داسلام اوخپل قوم دارادې په درنه اوله وقاره ډکه لمن کي ولټوي .

دورور « حکمتیار» رسالت همدادي، له الله (ج) سره دهغه تعهد همدادي، قوم ته ئې وعده اوقول دهمدې ورکړي ، هغه به حتماً په دې لارکي خپله وفاثابتوي که نورهرڅه کوي ، که هرخط تعقیبوي ، که داقتداردساتلو اوګټلو لپاره ، دکولو اونه کولو هره لوبه کوي، کوي به ئې، خو ورور « حکمتیار» ته پکارده چې خپل دسولې اومعقولیت له ماموریت څخه وانه وړي .

ترهغې چې موضوع دطالبانو پـــه مشرانوپورې اړه لري نو متاسفانه داسي برېښي چې هغوي نه دوخت له تیریدو څخه زیات څه زده کولاي شي، نه له فرصتونو نه داستفادې کولو بنه استعداد لري، نه دقضایاوو تل ته نظر کولاي شي . که داسي نه واي نو اوس بـه پــه هیواد کي د سولي دراتلوپه لوري لوي پرمختګ شوي و.

که هغوي په دې لیږفکرهم وکړي چې له کومه حالته کوم حالت ته ولاړل،څومره شپان ئې وبايلل ،په دې سوچ وکړي چې جګړه دقضایاوو دحل لار نه ده ، دادرك کړاي شي چې دانحصار او نورو دحذف سیاست ناکامه تجربه ده نوباید دورور « حکمتیار» غږداخلاص اوصمیمیت غږ بوجدي او عملي اواز ، دنجــات او بچیدو اواز او بالاخــره د اسلام او افغانستان دسعادت بلنه وګڼي .

دافغانیو ستونځې ته یوعاجل او هراړخیز اقدام ضروردی

ایا دا به دیوه عمومی انقلاب پیلامه وی اوکه دمسؤلانه حکومت کولو آغاز ؟

لیکنه : عبدالغفور «خرم»

دو سکي » او د « پیسو » مسئله دیودولت ترټولو اساسي اومهمه مسئله ده ، ځکه چې سکه دیودولت دحاکمیت نښه بلل کیږي . خو نن ورځ له دغه سمبولیك ارزښت سربیره دپیسو ارزښت لاهم مهم شوي اونښه يې داده چې پــه هروخو لسوزرومیلیاردو دالروکي چې هــره ورځ تبادله کیږي او دیولاس نـه بل لاس ته ورځي بواځي زر میلیارده يې د تولید شویو کالیو دتبادلې په توګه ترسره کیږي اوپاتې يې ټول صرف دپیسو دانتقال پڼه لري .

په افغانستان کښې دکمونستانو لـه واکمنۍ سره دافغانيو دبیې راټیټېدل پیل شول، خوداچریان دنجیب دحکومت له سقوط سره خپل اوج ته ورسید، دافغانيو بې حسابه چاپېدل شروع شول اوتوتونه په وروسته له دې نـه شمېرل کیدل بلکه په تله به تلل کیدل .

حکومتونه دایم دخپلي بې کفایتي یاتوروااقتصادي کمزوریو له وجهي په دې توانیدلاي نــه شي چې خپل عایدات اومصارف سره متعادل کړي ، او په نتیجه کي يـوه متعادله بودجه چې کسرونلري دځان دپاره برابره کړي .

نن ورځ پــه نړۍ کي ترټولوپوروړي دولت دامریکا د متحده ایالاتودولت دي، دبودجې دکسرنه سربیره، ددغه هیواد دتادیاتوميزان دبېرې اتدوله دي .

په دې معنی چې امریکاله هغه څه نه چې تولیدوي زیات مصرف کوي، له هغه څه چې صادروي يې زیات واردات لري. خو دامریکادپاره داحالت زیاتي ستونزې نه راپیداکوي ځکه چې دالریه عین وخت کي دامریکا ملي سکه اوپه نړیواله سطحه بین المللي سکه منـل شوي ده ، یعني په نړیواله مستوي دالرترټولو اسعارو لوړ او اوچت مقام لري .

په نړۍ کي بل هیڅ هیواد د متحده ایالاتو له دغه دپرسترامتیازڅخه برخمن نه دي، نو پــه دې توګه نورهیوادونه مجبوردي پــه ځان سختي راولي، زیات کاروکړي اوخپل مصرف کم کړي ترڅوچې دکال په آخرکي يې په حساب کي تعادل ترلاسه شي .

نن ورځ دسکوبیه داسعاروبازارتياکي .

په کال ۱۹۷۱ کي دمتحده ایالاتو دهغه وخت جمهوررئیس « نیکسن» تصمیم ونیولوچې دده هیواد به وروسته لــه دې دډالریه مقابل کي طلاچاته نه ورکوي، په بل عبارت وروسته لــه دغې نیټې طلاددالرپشتوانه نه بلل کیدله ، اوهیچاته شــواي کــولاي چې هغه ډالرچې له امریکاتیانو يې د خــپل مال په بدل کي ترلاسه کړي په طلابدل کړي، یعني داچې امریکایانوته ډالر ورکړي اویه بدل کي طلاتري وغواړي .

دامــریکا نــرمـوري تصمیم Bretton Woods له تړون څخه چې په کال ۱۹٤٤ کـي پخپله دامریکایانو لخواوړاندي شوي ؤ، لومړني اودېرې مسئوولیته اقدام ؤ. له دغه تصمیم سره هغه نظم چې په نړیوال پولي سیستم کي ؤ له منځه ولاړ اودسکو اوپیسو برخلیك دبازارقاضي ته ورروسپارل شو، حال داچې پــه بازارکي بواځي دعرضي اوتقاضا قانون چلیږي اوبس !

اوس به راشو دافغانیومسئلي ته ،لکه چې دوخته مووپیل دافغانیو دبیې ټیټیدل دکمونستانوله وخته پیل شول اودغې سلـسلي له ۱۹۹۲ کال وروسته هم ادامه پیداکړه . د افغانو دبیې دټیټیدلو په اړه هغه فکتور چې دمخه مووورته اشاره وکړه ، مهم نقش درلود، یعني دبې کفایته حکومت تـبلي چې دسکي دربښتېني قوت په ځــاي دپیسوحجم زیاتوي اودپیسو دکتلي اوحجم له زیاتیدوسره انفلاسیون رامنځته کــوي اویه دې توګه خپله بې کفایتي پــه مصنوعي توګه لــه نظرونو پټوي یادهغه متل مطابق « لــوټــه په اوبوکي ږدي اوپړي تیریږي » او ددې سرج نه کوي چې په راتلونکي کي به څه پېښیږي . خو دافکتورنه بواځې اونه هم ترټولو مهم فکتور دي، پــه تیره بیا دافغانستان پــه حالت کــي زمــوږ ددې ادعاثبوت ددغووروستیو ورځوهغه مثلي انکشاف دي چې دافغانيو دقیمت په برخه کي رامنځته شو، یعني هغه اقدام چې دافغانيو دبیې د لوړولو دپاره ترسره شوي ؤ برعکس ددغې سکي دلابې ارزښته کیدوباعث وګرځیدلو کله چې دیوهیواد اقتصادي جوړښت له تهدابه ویجاړ شوي وي اوله مینځه تللی دي سخته به وي چې داډول اقدامات کــومــه مثبته نتیجه ورکړي .

څرګنده ده چې پــه افغانستان کــي دشورویانودتاثاریه وجــه او دافغاني وسله والو دخود غرضي پــه وجه ټول ملك په کنډواله بدل شوي اودمدني استوګنې دقابلیت نه بهرشوي دي، په افغانستان کي چې څوك په دې صدي کي ژوند کوي، باید دمنځنیوصدیو (قــرون وسطي) دژوندانه په نظرورته وکتل شي، خودومره تفاوت دي چې په هغوزمانوکي دټولي نړي بشري ټولني تقریباً یــو شان ژوند درلوده اوانسانان دمدنیت نـــه یابې خــبره وو اویاځینې ټولني لږڅه پوهیدل خو په عام طور دجوامعو دژوندانه په سطح کي دیرتفاوت موجود نه وو . حال داچې اوس زموږ خلك دمدنیت په مزایاوښه پوهیږي اودمدنیت وسائل او وسایط بـــه هـــم استعمالولي شي، خودمدني ژوند نه محروم کړاي شوي دي .

په دې مدني زمانه کي زمــونــږ ملك کي :

۱- کـرهڼه نشته
۲ - باغداري نشته
۳ - مالداري نشته
٤ - صنعت نشته
٥ - تجارت نشته
٦ - ترانسپورټ نشته
۷ - معدني پیداوارنشته
۸- برق نشته
۹ - ځنګلونه یاسوزول شوي، یاقطع شوي اوپردوماركیټونوته په غیرقانوني صورت وړل شوي دي، اوس دسوزولو اوعمراني امـــورو د پــاره لرګي اوسکاره نشته .
۱۰ - بانکونه اودسروسپینوزرو اوکرڼه احجارو ذخایر لوټ شوي .
۱۱ - امن ، امان اویومرکزي اوواحد حکومت نشـته ، ملــوك الطــوایفي حکمراني کوي .

په داسي حال کي چې داهرڅـــه تباه شوي اوپرسیره پرمادي ثــروت ، زمــونږ دپوهي خاوندان یاوژل شوي ، یابې درکه شوي اویاخوپه پــردیسو ملکونو کي دجلاوطني بې قـــدره شپې ورځــې تیروي .

صنعت کاران مو په نــورو ملکونوکي په صنعتي سکتورونوکي استخدام شوي اوخپله پوهه اوصنعت ئې دپــردیو په خدمت کي ورکړي، او پــه داسي حال کي چې تراوسه پــوري دځینو خودغرضواوبې احساسه وسله والو ترمنځ جنګونه دوام لري اوزموږ دوطن زاړه ځوانان سپینې ، نر، اوپاتې آبــادي او ثروتونه دخپلو شومو اغــراضــو قــرباني کوي، داقتصاداودپیسو دارزښت اوقیمت اصلاً سوال نه پیداکیږي .(زموږ اقتصادي زیربنا کاملاً تخریب شویده .)

داقتصادي اصولودمخي څخه یواصل دیوه مملکت دوګرو د مجموعي کار حاصل، دمملکت سرمایه بولي ، حال داچې زموږ په وران شوي مملکت کي کاروجودنه لري دکوموتخریب شوومثالونو چې ذکرئې وړاندي شوي دي په لاندي ډول تفصیل ورکول کیږي :

کرهڼه (زراعت) :

بندونه ، نهرونه ، کاریزونه ، چېــنې ویالې اوداوبوخوړټول امکانات تخریب شوي دي، اوپرسیره پرهغه په زرګونو اولکونو ماینونه پــه ځمکو، غرونو، رغونواوځنګلونو کـي ښخ دي، کرهڼه به څنګه وشي اوڅوك به جرئت وکړي چې په هغوپرخوکي کاروکړي ؟

زموږ ستره هستي کرهڼه وه چې هم زموږ دخوراك احتیاجات ئې پوره کول اوهم مو مالــداري پــري کوله اوهم موصادرات کول، لکه : پنبه ، زغــر، کنځلی، پیاز، کچالو، ختکي اوحبوبات، اودهغوپه بدله کي موخارجي اسعارلاسته راوړل، اوخارجي د ضرورت وړکالي مویري پیرودل اووارددول .

باغداري :

باغ اوباغداري زموږ مهم ثروت وو کوم چې اوس وچ شوي، ونې ئې یاخوقطع شوي دي اویاپه مرضونوککړي شوي دي چې میوه اوحاصل نه ورکوي .

زموږ عمده صادرات انګـور، ممیز، بادام، چارمغز، ستروس ، ملي، شکرپاره ، اوداسي نورووچې اوس ترینه محروم یو. علاوتاً ونواویاغونو زمــوږ دسون مواد، طبیعي ســره ، او قالین بافوته رنګونه برابرول، زموږ ولس تـه هم دصحت منابع

پاتې ۳ مخ ۱ ستون

تعرض

« د نااعلان شوی جګړی نامعلومی صفحی»

دلښکرو دتعرض وخت

د «میتري ګاېي » او«داسیلي سینګروف » لیکنه   دویمه برخه   دخیبرژباړه

د۱۹۷۹ کال ددسمبر دمیاشتي په ۱۳مه نیټه دترکستان دنظامي حوزي قوماندان وګرجنرال ماکسیموف خپل لومړي مرستیال تورجنرال توخارینوف ځانته وغوښت اوپه افغانســتان باندي دراتلونکي نژدې حملي لپاره دلښکرو دتیاري قوماندونه ورکړه او خپله ترمزته لاړ چیرته چې د« ٤٠ » اردو دلښکرودتعرض دقوماندي ځای جوړشوي ؤ ،تورجنرال توخارینوف دلښکرودتعرض په موقع د « ٤٠ » اردو دقوماندان ، بریډ جنرال تسکیوف ،دسیاسي چارو دآمر،بریډ جنرال لوباتوف دلوی درستیزاوبرید جنرال کرچاګین دکشف رئیس په توګه وټاکل شول په افغانستان باندي دلښکرو دتعرض پخاطر دشوروي داردو دستر درستیز دقرارګاه دامر پــه اساس «دیوي اوني په ترڅ کي دمنځني آسیا او دترکستان په نظامي حوزوکي تقریباً تر « ۲۰۰ » قطعو او جزوتامونو یوري په مدرنو وسلو سمبالي اود لورو محاربوي وسایلو په درلودلو سره دتیارسي په حالت کي راوستـي شوی. دو « ٤٠ » اردو په تشکیل کي د دوال،دول الوتکو یوه قول اردو ، څلور میکانیزه فرقي ، دهجومي دیسانت لوا ، یو بیل پیاده غند ، دتوپچي لوا ، دمدافعې هوایي دراکټونو یوه لوا ،دمخابري قطعات ، انجینري قطعات ،لوژستیکي جزوتامونه اوپرشمیرنور جزوتامونه شامل وو. په دغه وخت کي دبیلا بیلو قطعاتو دتشکیل لپاره له احتیاطو څخه له « ٥٠٠٠٠ » نه زیات شمیر افسران،خوردضابطان اوعسکر راغوښتل شوي وو.دلښکرودپرسونل اوجنګي تجهیزاتو دانتقال لپاره « ۸۰۰۰ » موټرونه اوبیلابیل وسایط برابر شوي وو.

دترکستان او منځني آسیا دنظامي حوزو لپاره په افغانستان باندي تعرض ددوهمي نړیوالي جګړې وروسته یولوی او قوي ماتور بلل کیده او په دغه پیمانه قوتونه دیوه منظم لښکر په شکل پر افغانستان باندي دتعرض لپاره آماده شول .

دعمومي تعرض نه وړاندي ددسمبر په میاشت کي دوه میکانیزه اویوه دهوایي دیسانت فرقه ، دهجومي دیسانت یوه لوا اوده غندونه دافغانستان پولو ته څیرمه ترمز او کوشك ته کیــرل شوي وو . په افغانستان باندي دروسي لښکرو دعمومي تعرض دآماده کیدو لپاره وخت ډیر کم ټاکل شوي ؤ ، نو په همدي خاطر هرڅه په بیړه او عاجل ډول ترسره شول ، داحتیاطو راغوښتل شوي افسران اوعسکر په زیاته اندازه دمنځني آسیا دجمهوریتونو نه راټول شول ، او داسي ویل کیدل چې بهتره داده چې دمسلمانانو سره خپله مسلمانان جګړه وکړي .

هرګوره په پټه خو داخبره هنداسي نتیجه ګیري شوي او دشوروي مشرانو هنداسي بهتره ګڼله ، راغوښتل شوي احتیاط چې دپارتیزانانو په نوم یادیدل دو « ۱۹۸۰ » کال دمارچ په میاشت کي بیرته خپلو کورونوته په دې نامه ولیږل شول چې ګنې دغه نوموړ شوي پارتیزانان دجګړه ایز تخنیك نه موثره استفاده نشي کولاي ، دافغانستان خاوري ته دلښکرو دتیریدو لپاره دآمو په سیند باندي داستحکام پلونه وتړل شول ترڅــو ددغــو پلونو له لاري دلښکرو اوجګړهایز تخنیك دیږتي تعرض لپاره زمینه برابره شي ، هغــو افســرانو اوجنرالانو چې په دغې نظامي مداخلي کي یې برخه درلوده دتعرض په اړه یې بیلابیل نظریات درلودل ، یو شــمیــرنظامي قوماندانانو دلښکرو تعرض ته دشك په سرګه کتلي خو یو شمیر نورو یې پلوي کوله ، په دې اړه دهغه زمان څو تنو روسي وګروالانو داسي وویل:« تاسي څه فکر کوي چې نړیوال انقلابونه په سپینو دستکشو کي منځ ته راځي،..» خو یو شمیر داسي افســران هم وو چې دلښکرو دتعرض سره بې علاقه نه درلوده ، هغوي به ویل:« آیا موږ به داحماقت وکړو؟»

دلښکرو دتعرض په اړه دو « ٤٠ » اردو لومړني قوماندان اوپه افغانســتان باندي دحملــه کوونکو لښکروسر لښکر تورجنرال توخارینوف وايي :« د۱۹۷۹ کال ددسمبر دمیاشتي په ۲٥مه نیټه دمسکوپه وخت د غرمې نه وروستــه په دریو بجو زموږ لښکرو دافغانســتان ځمکني او هوایي حریمونه مات کړل ، دآمو په سیند باندي په ترل شویو استحکامي پلونو، پیاده لښکري ،جګړه ایزتخنیك اونور جنګي تجهیزات افغانستان ته پوري وتل ، ددې سره جوخت پوځي ترانسپورتي الوتکو دافغانستان فضايي قلمرو مات کړ اوکابل ته یې دهوايي دیسانت دقرغې پرسونل اونور جنګي سامان آلات انتقال...»

تورجنرال توخارینوف زیاتوي :« دماحماقت وخت داسي تصور نه کاؤ چې دغه بیرتي تعرض به ډیر دوام وکړي او ان دا چې تر لـــو کالو پوري به اوږد شي او دتعرض دورځې نه پیل کیدونکي جګړې ته دې دافغانســتان دجګړي نوم ورکړل شي ،» دژورنالیستانو سره په خبروکي توخارینوف وویل:« موږ فکر کاؤ چې افغانستان ته زموږ دلښکرو تلل به دڅه وخت لپاره وي او ډیره موده به ونه نیسي اودغه تعرض به زموږ ددوستانو (دافغانستان دخلکو) لپارهٔ سهولت راولي.»

په افغانستان دتعرض په اړه یوتن روسي جنرال لیونید ایوانویچ شیر شاینوف چې په هغه زمان کي ددغې حملي کوونکي لښکر یوتن افسر ؤ داسي وايي :«زموږ لپاره په افغانستان کي ترټولو سخت کار دا ؤ چې موږ دافغانستان خلکو ته وراېو چې موږ دچا په دعوت دلته راغلي یو ، موږ پرته له کوم منطقي ځواب څخه دافغانانو دپوښتنو په ځواب کي بواځې همدا ویل چې موږ دقانوني دولت دغوښتني په اساس افغانستان ته راغلي یو ، زموږ دغه خیال ډیر ژر په رښتیا بدل شو اودلښکرو دتعرض له پیل نه څو ساعته وروسته مو درادیو له لاري دکارمل ځوا نه وخلکو ته دمراجعي» تر عنوان لاندي یوه اعلامیه واوریدله.

وروسته زه پوه شوم چې دغه اعلامیه مخکي له مخکي په کست کي ثبت شوي وه اود شوروي دخاوري په دننه له یوه رادیویي ستیشن څخه خپره شوه ، ددغې اعلامیې له خپریدونه وړاندي موږ امین په کابل کي ختم کړي ؤ او دغه وخت زموږ لښکري په پوره اطمینان سره دکابل پرمخ روانې وې .

مارك اوربان چې «په افغانستان کي دجنګ» تر عنوان لاندي یې یو کتاب لیکلی دی وايي:« ددسمبر په ۲۷مه نیټه ماښام دافغانستان دهغه وخت دوسله وال پوځ لوی درستیز دځلورمي زرهداري لوا قوماندان وګرمن علاوالدین ته تیلیفون وکړ ، خپله علاوالدین دتیلیفون په اړه وايي چې لوي درستیز له ماته په تلیفون کړ، وغوښتل چې موږ باید په بیړي سره دخپلو ټانکونو سره کابل ته ننوځو چې دامین له رژیم نه دفاع وکړو ، دلوي درستیز ددي غوښتني سره دلوا په منځ کي یو تشویش را منځ ته شو ، موږ سمدستي دلوا ډیر شــه اوتکړه افسران راوغوښتل ،تصمیم ونیول شو چې په تکتیکي لحاظ باید دوضعیت له محاکمي نه وروسته داسي عمل وکړو چې په مجموعي توګه دثور انقلاب ته کوم زیان ونه رسیږي .»

مارك اوربان په خپل کتاب کي لیکي :« ددسمبر دمیاشتي پــه ۲۷مه نیټه دعملیاتو وروستي پړاو پیل کیږي ، ماښام دهوایي دیسانت قواوي دکابل ښار مرکز ته داخلي شوي ، دکابل پــه وخت په « ۷ » بجــو او « ۱٥ » دقیقو دکورنیو چارو وزارت وداني ته په داخلیدو سره یې دنوموړي وزارت کــارکــوونکي اوســاتونکي بې وسلي کړل،دهوایي دیسانت دقوا بلې ولې دکابل په لویدیځ کي ددارالامان په قصر برید وکړ، » په ښار کي دتاجبیګ په قصر باندي چیرته چې حفیظ الله وامین اوسیده دجګړي وږي اوریدل کیدي ، دکابل په وخت په «۸» بجواوو « ٤٥ » دقیقو دکابل رادیو دا خبــر خپــور کړ چې :« ببرك (کارمل) قدرت ته ورسید اودشوروي اتحاد نه یې پوځي مرسته وغوښته . دروسي لښکرو ددیسانت دقوایو جزوتام چې دکابل درادیو دستیشن دنیولو لپاره هلته تللي ؤ درادیو کار کوونکو ته یې اعلان کړه چې موږ ددې لپاره راغلي یو چې انقلاب ته نجات ورکړو،» تردې وخت پوري دروسي لښکرو د « ۱٥۰۰۰ » نه تر « ۲۰۰۰۰ » پوري پوځیان دافغانستان خاوري ته داخل شوي وو.

یوه ورځ وروسته ددسمبر دمیاشتي په ۲۸مه نیټه په مســکو کي د «پراودا » ورځپاڼې (خلکوته دمراجعي)تر عنوان لاندي دببرك کارمل ځوانه یوه خپره شوي اعلامیه چاپ کړه ، په دغې اعلامیې کي لیکل شوي وو :« وروسته له سختو شکنجو اوتکلیفونو نه د افغانستان دورونو خلکو دآزادۍ ورځ راورسیــده ،نن ورځ دامین اودهغــه دلاس پوځــو خپل سري ،وحشي ،جلاد ،غصب کوونکي ، ظالم اووژونکي ماشین له منځه تللی دي.»

همدغــه شان د پراودا » ځوانه په چاپ شوي اعلامیه کي لیکل شوي وو :« دثور نه مــاتیــدونکي اوستــر انقــلاب چې دافغانســتان دقهرمانو خلکو دغوښتني په اساس دافغانستان دانقلابي اردو دافسرانو دپاڅون په نتیجه کي بریالیتوب ته رسیدلي دي ، خپل نوي پړاوته داخل شو، دامین اود هغه دپلویانو دغودامپریالیزم په سرکي دامریکا دامپریالیزم داجیرانو ظالم ،مستبد ،وینې تویونکي ، ورانکار اوخاندانې رژیم له منځه تللی او وران شوي دي. هیوادوالوامخ په وړاندې دځان خوښو ظالمانو ،استثمار چیانو اوضرر رسوونکو تر پوره نابودي پوري .

مــرګ دنادر اوامین پــه خــونکارانو اوظالمانو.»

د «پراودا »دورځپاڼي په اعلامیه کي امین ته د «خونکارظالم» ،«د نړیوال امپریالیزم داجیر» اوداسي نور یوشمیر کلمات استعمال شوي وو .

په راتلونکي ورځ د«پراودا» ورځپاڼي د «افغانستان ددولت داعلامیې» تر عنوان لاندې یومطلب چاپ کړچې په هغه کي لیکل شوي وو :« دافغانستان دموکراتیك جمهوري دولت دبهرنیو مداخلي ،اودجګړې دتحریك لپاره دبهر نه د پراخ لــــون دمخنیوي ، دثور دانقلاب ، دهیواد دځمکني بشپړتیا ،دملي خپلواکي ،امنیت اوبې خطره سولي نه ددفاع په خاطر دشوروي اتحاد نه دسیاسي ، معنوي ، اقتصادي او پوځي مرستي غوښتنه کړي ،دشوروي اتحاد دولت دافغاني لوري غوښتنه په بشپړ ډول سره منلي ده.»

ددې اعلامیې نه لاندي د «پراودا» په ورځپاڼه کي دکابل نه یو لیږل شوي خبر په دې شکل لیکلي ؤ:« په کابل کي دافغانستان دخلك ددموکراتیك ګوند دمرکزي کمیټي جلسه جوړه شوه ،په جلسه کي ببرك (کارمل) دانقلابي شورا درئیس ،دوزیرانوشورا درئیس اودوسله وال پوځ داعلي سرقوماندان په توګه وټاکل شو.»

دکابل رادیو په دغې موقع اعلان وکړ چې دافغانستان دخلکو پر خلاف امین دخپل غوره کړي سیاست له مخي دانقلابي محکمي د پریکړي په اساس هغه ته دمرګ سزا وټاکل شوه اودانقلابي محکمي امر تطبیق شوي دي .

دکارمل سرنوشت:

همدغه شان د ۱۹۷۹ کال ددسمبر په ۲۷مه نیټه ماښام ناوخته دافغانستان خلکو دکارمل نوم درادیو له لاري واوریده ، باید ووایو کارمل چې هغه وخت په دربارکي په تخت کیناست دروسي ټانکونو داوږدو کتارونو سره یوځاي دمسکو نه کابل ته راغلي ؤ ،دنوي مشر نوم په ملي او بین المللي سطحه د یومستقل هیواد د مشر په نوم نه یا دیده او ده ته ئې «ګوداګی کارمل» او دده حکومت ته ئې د روساتود لاس پوڅی حکومت خطاب کاوه .کارمل تقریباً یونیم کال د افغانستان نه بهرتیرکړاو په تاڅایي ډول د امین پرځای په لوړو دولتی اوحزبي پوستونوکی نصب شو . اوس لومړی پوښتنه دا ده چې کــارمل څنګه او د کومې لاري نه په استفادې سره وکولای شول کابل ته ځان ورسوی ؟

دوهمه پوښتنه دا ده چې چا اوڅه وخت کارمل دګوند د عمومي منشي په توګه وټاکه ؟

نوربیا

په ترکیه کې درفاه دگوند له مرستیال شوکت خازان سره مرکه

پوښتنه: دتېرې دسمبر په انتخاباتوکې د رفاه گوند د اکثریتي پارټۍ په توگه وپېژندل شو، پدې باب دامریکا واضح موقف اوعکس العمل څه دی؟

ځواب: تراوسه پورې دامریکا له لورې کوم عکس العمل مخې ته ندی راغلی، البته په انقره کې دامریکاسفیر کروسمان درفاه دگوند په مرکزي دفترکې له نجم الدین اربکان سره دوه ساعته خبرې اترې کړې. له خبرونه وروسته هغه په پراخباري بیان کې وویل چې زه له نجم الدین اربکان سره له خبرواترونه خوشال اوواومن یم. اگر که دترکیې ځینو اخبارونو دا پروپاگند کړی وچې درفاه گوند پرکامیابۍ امریکا خفه شوې خو زما په فکردا هسې پروپاگند دی اوهیڅ حقیقت نلري.

پوښتنه: له کوم وخت نه چې په ترکیه کې گڼ گوندیز نظام رایج شوی اوډېرو گوندونو ته دحکومت جوړولو فرصت هم په لاس ورغلی، لیکن داخبره دفکر اوغور ده چې په (۷۲) کلونو کې ۵۲ حکومتونو جوړ شوي چې دهریو عمر له یو نیم کال نه زیات ندی شوی، آیا ددې مطلب دادی چې ترکیه کې گڼ گوندیز نظام ناکام شوی؟

ځواب: موږ هم داخبره دترکیې ولس ته وایو چې تراوسه پورې یوحکومت هم خپل فطري عمر ندی پوره کړی اوډول ډول مسایلو اومشکلاتو سره مخامخ شوي اوهیواد یې عدم استحکام سره مخامخ کړی، ددې اصلي علت دادی چې دهیواد دستور اوقانون په حقیقت کې معطل دی، په انتظامي سطحه هیواد له قحط الرجال سره مخامخ دی چې یو علت یې گوندي تعصب دی، ددې پرځای چې دیوگند کار اوفعالیت وڅېړي په ړندو سترگو یې حمایت کوي.

په اروپایي هیوادونو کې خلک هغه گوند ته وټونه ورکوي چې دولس خدمت کوي اوغوښتنې یې په نظر کې نیسي، خو چې کله ددوی غوښتنې سرته ونشي رسولای نوبیا په بل ځل انتخاباتو کې هغه گوند ته رایه نه ورکوي او خپله پارټي بدلوي، ددې برعکس په ترکیه کې خلک خپل خپل گوندونه نه بدلوي، ماته دحضرت عمر هغه قول په یاد راځي چې مسلمانانو ته یې په خطاب کې ویلي وو: کله چې په عمر کې څه کوږوالی راشي نو تاسې به څنگه کوئ؟ یوسړي خپله توره وویسته او ویې ویل چې موږ به هغه په توره برابر کړو، حضرت عمر وفرمایل: الحمدلله چې په مسلمانانو کې داسې کسان شته چې دعمرکوږوالی په توره سموي، ددې مطلب داشوچې د خلیفه ثاني حضرت عمر په رعیت کې داسې بیدار اوزیرک اشخاص موجود وو چې دخپلو مشرانو احتساب یې کاوه، لیکن نن سبا په مسلمانانو کې داکیفیت نشته که څه هم دلسو کلونو راهیسې دخلکو په فکر کې څه بدلون راغلی خوفی الحال دیومثبت بدلون ته تږشی کېدای.

پوښتنه: ځینې خلک په رفاه گوند دا الزام لگوي چې ددې ښځې په انتخاباتو کې گډون ته نه پرېږدي، اودا الزام هم لگوي چې تاسې له ښځو نه یوازې انتخاباتي مقصدونه ترلاسه کوئ؛ په دې باب ستاسې نظر څه دی؟

ځواب: درفاه په گوند کې تقریباً لس لکه ښځې شاملې دي، او په مختلفوکارونو بوختې دي، هغوی په انتخاباتوکې دکاندید په توگه دنه گډون فیصله پخپله کړې وه بلکې هغوی داسې کاندید منتخب کړي چې دښځو صحیح نمایندگي وکړي، ددې وجه داده چې دترکیې په قانون کې ښځې ته دا اجازت نشته چې پارلمان ته دستر اوپردې په حالت کې داخلې شي نوځکه درفاه د گوند ښځو په انتخاباتوکې دکاندید په توگه له ودرېدونه ډډه اوانکار کړی دی، موږ په پارټۍ کې شاملې ښځې خپلې خویندې گڼو، کله به چې رسول اکرم «ص» جهاد ته تشریف وړلو نو ښځې به یې هم له ځانه سره وړلې، آیا موږ ویلی شو چې رسول کریم «ص» ښځې دخپل سیاسي مقصد لپاره جهاد ته بوولې؟

موږ کله هم ښځې دانتخاباتي مقاصدو لپاره نه دي استعمال کړي، بلکې هغوی پخپله دخپل دین دحفاظت دخپلوماشومانو دگټې اودخپلې کورنۍ دحفاظت لپاره زیات کوښښونه کړي ځکه چې په ترکیه کې موجوده نظام دښځو دعفت اودماشومانو له اسلامي تربیت نه قاصر اوبې وسه دی.

پوښتنه: تاسې وینئ چې دعربو اواسرائیلو ترمنځ دخبرو اترو دقایمولو لپاره په تلدی سره هلې ځلې روانې دي او په دې لړ کې دمنځني ختیځ په هیوادونو دامریکا اونورو غربي هیوادونو فشار هم زیات شوی، پدې باب ستاسې دریځ څه دی؟

ځواب: موږ دامنو چې القدس اسلامي ښار دی نوځکه موږ داخبره قطعاً نشو زغملی چې القدس داسرائیلو پایتخت پاتې شي، داسرائیلو اویاسرعرفات ترمنځ چې کوم تړون شوی پدې کې دفلسطینیانو حقوق تر پښو لاندې شوي، زموږ په خیال ددې تش په نامه تړون هیڅ مثبته نتیجه لاس ته نشي راتلای.

پوښتنه: تاسې دانتخاباتو په ورځو کې دترکیې داقتصادي وضعې دښه کولو لپاره دیوعادلانه نظام قایمولو غوښتنه کړې وه، آیا ستاسې په خیال حالات اومرکزي حکومت ددې پروگرام دعملي کولو لپاره له تاسې سره مرستې ته تیار دی؟

ځواب: موږ پدې نشو کامیابېدای ځکه چې موږ په حکومت کې یوازې نه یو البته موږ په پوره توان کوښښ کوو چې دهیواد اقتصاد په خپلو پښو ودروو، پدې لړ کې موږ په کلیو کې اوسېدونکو دهقانانو ته دسود نه پرته قرض ورکوو چې هغوی دکرکیلې لپاره تراکتورونه واخیستلای شي، موږ دخلکو لپاره داسې مارکیټونه اوگودامونه خلاصووچې هلته له سود نه پاک مصنوعات جوړشي اودسودي مصنوعاتو پرځای خپل مصنوعات وړاندې کړو ترڅو خلک په قیمت اوښه ټیز کې موازنه وکړي.

پوښتنه: په ترکیه کې دډیموکراسۍ په باب تاسې څه نظر لرئ؟

ځواب: جمهوریت په دوه ډوله دی، لومړی نماینده جمهوریت دوهم حقیقي جمهوریت، په اوس وخت کې د رفاه گوند دترکیې په ښاروالۍ نظام کې په راه راست حقیقي جمهوریت ته جامې وراغوندي، زموږ کارکن وروته یوازې انتخاباتوپورې محدود ندي بلکې همېشه دترکیې دولس په خدمت کې لگیادي، هره میاشت دخلکو غونډه راپولی اوله هغو سره مشوره کوي اومعلومات ترینه ترلاسه کوي چې آیا هغوی درفاه دگوند له کار کتانو څخه مطمئن دي اوکه نه؟ اخو نورگوندونه داسې نه کوي دانتخاباتوله گټلونه وروسته ولس له یاده وباسي اوهیڅ ډول مشوره ورسره نکوي چې په نتیجه کې ولس له هغوی نه هیڅ ډول فایده نشي ترلاسه کولای لدې کبله جمهوریت دمسابقې په میدان کې نورگوندونه له رفاه پارټۍ نه نشي مخکې کېدای.

دافغانیو ستونځې...

و اوهم اقتصادي منابع.

مالداري:

مالداري موټباه شوي، څارویو ته ورشوهاتې نه دي اوډخوراك دپاره ئې هیڅ غذائي مواد نه لرو، حال داچې مالداري زموږ په ملك كې حیاتي ارزښت اواهمیت لري. زموږ دولس شیدې، مستې، غوړي، كورت، اوداسې نورو مالداري نه لاس ته راتلل، دوړیو، وړغونو اوبت نه رنگ، رنگ، قالینې، ټغر، لیمڅې، ټکران، داغوستلو توږدي جامې لكه پوستین، پوستین چې او كمپلې جوړیدل، او زموږ احتیاجات ئې پوره كول اوحتې صادرات موږیاتره همدااقلام وو.

علاوه پرذكر شوو اقلامو، دقره قلي پوستكي، دغویانو، پسونو او وزو پوستكي، پاخه شوي (پیكل) پوستكي، كلمې اوحتې غوښه صادریدله اواسعارئي راوړل. اوس تري محروم یو.

خلاصه داچې دصنعت، تجارت، ترانسپورت، معدني ثروت اودټولې هستې نه بې برخې شوي یو. دژوندانه ټولې اړتیاوې باید دنورو ملكونو نه ترلاسه كړو، حال داچې د تبادلې د پیاره هیڅ دارزښت وړځیزونه لرو اوپیسه موهم زموږ دملك دیري معیني محدودې ته بهرته چلیږي، او ضرورتونه مو دعادي حالت نه څوچنده زیات دي.

څکه زموږ په ملك كې خانه جنگي ده، حكومتي واكداران په جنگونو ډیرډیر مصرفونه كړي، داردونه نیولي، ترملیشو، امنیت اونوروباید دهره پلوه تمویل كړي، ددې ټولو ارتیاووډپوره كولو دپاره ئې په غیراصولي او په ډیره بې دردي او ناعاقبت اندیشي د نوټونو چاپولوته زوروركړي وو، اوس نوچاره اقتصادي هیوکوته رسیدلې ده.

۱ - دملك مصارف دې حد اقل پورې راټیټ كړي شي، دجنگونو مخه دې په مطلق صورت ونیولې شي، ان تردې چې یوكارتوس هم وارنه شي.

۲ - امنیتي قوه دې دملكرومللتونو دیوډجې نه دافغانانو نه تشكیل كړي شي.

۳ - ټولو مخالفینوته دې په صدق سره دووړې ایروالي لاس وركړي شي.

باتی د ۴، مخ ۱۰، ستون

میلاد نور ورحمت

در آوانیکه سرزمین حجاز به ظلمت کده تیره وتارمبدل گردیده بود. خانه کعبه این مرکزومحور توحید به بت خانه تبدیل شده بود. جزیرة العرب به سرزمین وحشت، ظلم، بربریت، فحشا، شرك وكفر مسمی گردیده بود. بنی اسرائیل یا امتیکه رهبری بشریت را بدوش داشت به انحراف وبیراهه سقوط نموده بدست خود هدایتنامه ودستور آسمانی خداوند (تورات وانجیل) را که تا قبل ازنزول قرآن حکیم یگانه مرجع هدایت ونوربرای بشریت بود تحریف نموده بود و باکمی وکاستی در آن ازجانب خویش دیگراین منابع نور وهدایت را برای ابد خاموش نموده بود.

